مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۶/۰۲/۱۹

# د پوهاند عبدالحی حبیبي د زوی خوشحال حبیبي سره دا مرکه

مرکه کوونکی: محمد ایاز نوری

درنو لوستونکو: په حاضر مضمون کي زما مرکه د افغان لوی ملي مبارز، مورخ، محقق او شاعر علامه عبدالحی حبیبي (رح) د زوی شاغلي خوشحال حبیبي سره لوستلای سئ. یقین لرم دا مرکه به د هر رشتیني وطن پال افغان لپاره په زړه پوري او د ارزش وړ وي.



خوشحال حبیبی او میرمن حمیرا حبیبی

سوال: جناب ډاکتر صاحب خوشحال حبیبي، تاسو مهرباني وکړی، لومړی خپل ځان مونږ را معرفي کړی؟

جواب: زما نوم خوشحال حبیبی دی. زه د علامه عبدالحی حبیبی زوي یم او په ۱۳۲٤ش (۱۹٤٦ع) کال د کابل په ښار کي زوکیدلی یمه. زما مور زلیخا، چي د محمد اعظم ایازی لور ده. زما نیکه عبدالحق اخوندزاده نومیدی زوی د عبدالرحیم، زوی د علامه حبیب الله اخوندزاده، زوي د ملا فیض الله زوی د ملا بابر موسی خیل. ملا بابړ د احمد شاه بابا په وخت کي د ړوب څخه قندهار ته مهاجرت کړی ؤ او په دغه ښار کي میشت سوی دي. ابتدائیه زده کړه مي د پیښور ښار په یوه ښونځي کي کړي ده او بکلوریا مي د کابل له تخنیکی ښوونځي نه اخستي ده، وروسته بیا د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځی نه په ۱۳۵۱ش (۱۹۷۳) کال فارغ سولمه.

سوال: تاسو جناب د پوهنتون د فراغت پس په دولت کی دنده درلودلې ده؟

جواب: هوکی، وروسته له فراغته مي دري کاله د کرهني په وزارت کي د ملي پارکونو په شعبه کي دنده درلودله.

سوال: مدنی حال مو څو اولادونه لرئ؟

جواب: ما په ۱۳۵۱ش کال کي د حمیرا میوندی د عبدالغنی میوندی د لور سره واده وکړ او یوه لور لرمه چي ځلا نومیږی.

سوال: کوم کال کي او په کوم علت مو خارج ته هجرت وکړ؟

جواب: موږ په کال ۱۳۲۹ش (۱۹۵۰ز) کي د پښتونخواء پیښور ښار ته مهاجرت وکړ. سربیره پر سیاسی مسایلو یو عمده علت یې دا ؤ، چي زما مور ناروغه وه او یو تومور ورته پیدا سوی ؤ او د هغه علاج په کابل کي نسوای کیدلاي. د پیښور په روغتون کي یې جراحي ور وکړه او د خدای په مرسته ښه سوله.

سوال: آیا تاسو د افغانستان په کوم سیاسي جریان او تحریک کی عضو واست؟



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جواب: ما په کوم جريان يا حزب کي برخه نه درلوده. پلار مي په دغه ډګر کي ډير فعاليت کړي ؤ او بد نتايج يي ځني ليدلي وو. ما ته به يي نصيحت کاوه، چي "زويه د سياست په کړکيچن ډګر کي ځان مه اخته کوه. خپل علمي کارونه دي کوه او له دغه لاري هيواد او خلکو ته خدمت کوه".


د عبدالحی حبيبي د ځوانی عکس

سوال: په وطن افغانستان کي مو منقول او غير منقول جايدادونه موجود دي؟
جواب: زما پلار کوم خاص جايداد په وطن کي نه درلودي. د کابل په جمال مينه کي يي يو وړوکی کور درلود.
سوال: تاسو اوس چيرته هستوګن ياست؟
جواب: زه په کال ۱۳۵۵ش (۱۹۷۷ز) د عالی تحصيلاتو لپاره امريکي ته راغلم او اوس د کالرادو په ايالت کي ژوند کومه.
مننه، جناب ډاکتر... اوس به راسو، ستاسو د عاليقدر پلار مرحوم علامه عبدالحی حبيبي ته، چي دغه معلومات به ستاسو له خواه درنو افغانانو ته مهم وي.
سوال: علامه حبيبي په کوم کال او کوم محل د ګران افغانستان کي دغه نړی ته راغلی ؤ؟
جواب: علامه حبيبی په ۱۲۸۸ش (۱۹۱۰ز) کال کي د قندهار په ښار کي زوکيدلي ؤ.
سوال: د علامه د زده کړو باب تاسو کوم معلومات راکولای سئ؟
جواب: د علامه حبيبی رسمی زده کړه تر شپږم ټولګي پوري ده. نور ټول مطالعات او څيرني يي پخپله زده کړي دي.
سوال: د علامه صاحب کورنی (خانم يي، څو اولادونه، تحصيلات يي)
جواب: مور درې ورونه او يوه خور يو. زما مشر ورور، خدای بخښلی د طب ډاکتر ؤ. بل ورور مي مهندسی ويلي ده او خور مي په ژب پوهنه کي ماستری لري. ما خپل عالی تحصيلات دلته امريکه کي د مشګن په پوهنتون کي سر ته رسولی دي او په بيولوژی کي مي ډاکتری اخستی ده.
سوال: د علامه صاحب وظايف: ( په اماني ويارمن دولت کي؟ د بچه سقا پر وخت، د نادرشاه پر وخت، د اعليحضرت محمد ظاهر شاه او د محمد داود د حکومت پر وخت؟ د ثور د کودتا څخه پس؟)
جواب: په امانی دوره کي زما پلار يو ځوان هلک ؤ او د قندهار په يوه ښوونځي کي معلم ؤ. وروسته د هغه ده د قندهار ورځپاڼي، طلوع افغان، کي وظيفه درلودل او هلته تقريباً لس کاله بوخت ؤ. وروسته تر هغه دی خپل د فاميل سره کابل ته راغلی او د پښتو ټولنی مشر وټاکل سو. تر دي وروسته ده د ادبياتو پوهنځي په کابل پوهنتون کي پرانست او څو کاله د دغه پوهنځي رئيس ؤ. پس له دي د شورای ملي د اومي دوري وکيل ؤ. د داود خان د صدراعظمی په دوره کي په پيښور او کراچي کي ؤ. د ثور د کودتا په وخت د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشاور ؤ.
سوال: آيا علامه حبيبي د استقلال د محصل اعليحضرت غازي امان الله خان (ع) سره ليدنه او ملاقات سوی ؤ؟
جواب: پلار مور ته په خبرو اترو کي ويلي وه، چي ده امان الله خان په مقر کي په دغه حالت کي ليدلی ؤ، چي د بچه سقاو د محشر وروسته کابل يي ترک کړي ؤ. پلار مي د يوه ټولني سره د غزني مقر ته تللي ؤ، چي اروابناد امان الله سره ووينې او د قندهار د خلګو ملاتړ ورته بيان کړي.
سوال: په تاريخي اسنادو کي راغلي، چي جناب حبيبي د ظاهر شاهي او د شاه محمود خان د صدارت پر وخت د پاکستان هيواد ته تللی او اوږده موده هلته پاته سوی، په دغه مهمه موضوع به تاسو د هغه د زوی په حيث کوم معلومات راکړئ، يعني هدف او انګيزه د دغه خروج کوم ول؟
جواب: زما پلار پاکستان ته د تلو هدف او انګيزه داسی بيان کړی ده:
"يو زرو درې سوه نه ويشتم (۱۳۲۹هـ) کال او د ولسي جرګي چه شورا يي هم بلله، د اوومي دورې (۱۳۳۰-۱۳۲۸) کالنئې، وروستي اجلاس دي. په دي وخت کي د ديموکراسي د زيري سره ځينې سياسي حرکات پيل شوي وو، چي د يوي نسبي آزادي پر راتګ يي دلالت کاوه. دی سياسي-اجتماعي هڅو، خپل معين انعکاسات په شورا کي هم درلودل! په تيره د هغو وکيلانو له خوا چي د ټولني د منځني طبقي روشنفکرانو او څه نا څه د باسوادو اقشارو نمايندګي يي کول. البته، دا کار د محافظه کارانو او مخالف صنف، د ټينګ عکس العمل سره مخامخ ؤ، خو په هر حال يي خپلي د پام وړ ملي اغيزې او مثبتي نتيجي درلودي.
"په دي حيص بيص او هنګامو کي هغه وخت چي د دولت پر بودجه باندی په ډير جرئت خبري کيدي او د هيواد تقريباً ټيټه بودجه د لومړي پلا او په څرګنده توګه، د شورا تر بحث او کتني لاندي راتله، نو د وزارتونو د مالي تخصيصاتو د بررسي پر لړ کي، د دربار د وزارت پر بودجي او مصارفو باندي خبري پيل سوي، چي ژر د مترقي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او روښنفکرو وکیلانو او د دوی د مخالف لور تر منځ مشاجري ته ور واوښتې. ملي او حزبي نمایندګانو، چي د هغوی په لړ کي دکتور عبدالرحمن محمودي، میر غلام محمد غبار، او څو نور و لکه: عبدالکریم نزیهي، ګل پاچا خان الفت... ګډون درلود، پیشنهاد وکړ چي د شاهي دربار وزیر یا مسئول لوي نماینده دي، په راتلونکي غونډه کي حاضر شي څو د دربار د وزارت د بودجې د مستمري معاشونو او داسي نورو اضافي مصارفو او همداء راز د یو شمیر پټو عوایدو په باب توضیحات ورکړي او د وکیلانو پوښتنو ته ځواب ووايي...".

"په دغو ورځو شپو کي یو، چي صدراعظم سردار شاه محمود خان وغوښتل، چي لیدو ته یي ورسم نو چار ناچار، ور رهي سوم او ورغلم. سردار غازي د مینې او الطاف څخه هغه راز، چي محمد زایي کورني یي په رمز پوهیده، مالا مال ؤ. کښیناستو، پر بنو شنو او هیلدارو چایو باندي یي پر پښتو او پښتنو خبري را پیل کړي او زما تیر خدمتوني یي په دې لاره کي وستایل، بیا نو د پښتونستان پر مسله راغي، دلته جدي سو او اهل راز وبرېښیدی، ږغ یي ټيټ کړ او ما ته یي وویل:

"په دې لاره کي تاسي ته خاصه وظیفه در سپارل کیږي. او هغه به په سرحدي قبایلو کي د پښتونستان د تحریک تقویه او تنظیم وي، چي باید ژر تر ژره شروع شي. څو دا کار به هغه وخت واقعاً موثر او نتیجه به یي په ملي سویه مطلوبه وي، چي تاسي د هغې پیژندګلوي په مرسته، چي د قبایلي ورونو او پښتني مناطقو سره یي لرئ، پخپله هلته لاړ شئ او هوري څه وخت وواوسي او په لازمو اقداماتو لاس پوري کړئ. زه به شخصاً ستاسي سره په تماس کي یم او نږدې اړیکي به مو ټینګي وي...

"او داسي نور په زړه پوري مطالب، چي د هغو پر بنیاد ګواکي د پښتونستان د خلکو د مبارز تحریک په ټینګ ملاتړ به د افغانستان له خوا عملي تحریکات په نوي فکري چوکاټ او نوي بڼه سر ته رسیږي، څو د پاکستان حکومت، د هغي غداري څخه وروسته، چي د هندوستان د ویش په وخت کي زمونږ د قبایلي ورونو سره وسول، د دې ساحي او خلکو ملي- سیاسي هویت او د خود ارادیت حق رسماً و پیژني... زه (حبیبی) به د دې کار عملي او تنظیمي چاري په لاس کي لرم او د سردار شاه محمود خان غازي په مشوره او پراخو او اغیزناکو سیاسي او عملي مرستو به یي په لازم واک او اختیاراتو سره سر ته رسوم.

"داسي ښکاریده چي موضوع پخوا فیصله سوې او اوس صرفاً زما خبرتیا ته ورسول شوه! سردار شاه محمود خان په پاي کي زیاته کړه، چي زما او د کورني مخصوص پاسپورت به د خارجه چارو د وزارت له خواء، ډیر ژر اجرا او را وسپارل سي. د پاسپورت په اخستلو مي د سفر تدارک وکړه او هغه ؤ، چي قریب په بیړه او عجله د قبایلو په لور ور رهي سوم...(پاسپورت مخصوص وزارت خارجه افغانستان ۱۰۰۱٤٦۳٥ مورخه ۱۳۳۹/۸/۲۰ امضای معین رسمی وزارت خارجه).

"خو هلته ژر وپوهیدم، چي دا ټول د وطن د سیاسي او د آزادي څخه ملهم تود ډګر څخه زما د ایستلو د پاره پراخ تمهید او تفتین ؤ، چي په مهارت بنا سوي وو...".

سوال: آیا د علامه تګ پاکستان ته د هغه شخصي تصمیم ؤ او که جبري موضوع وله؟

جواب: تر هغه چي زه معلومات لرم داسي ښکاري، چي د هغه وخت صدراعظم شاه محمود خان ده ته یو راز دسیسه جوړه کړي وه، چي دی افغانستان ترک کړي ولي، چي ده او د ده انډیوالانو په ملي شورا کي د حکومت څخه د مشروطیت په بڼه کي سیاسی آزادی غوښتله.

سوال: پاکستان ته د تګ پر وخت تاسو خوشحال خان څو کلن واست او په کومه لار خارج سوی؟ هلته چیرته مېشت واست؟ تاسو اولادنو مکتب لوستلو؟ ستاسو د ژوند مصارف څنګه درته تامین کېدل؟

جواب: پاکستان ته د تګ پر وخت زه څلور کلن وم. مونږ د کابل څخه جلال آباد او د هغه ځاي نه د تورخم او خیبر پر لار پېښور ته ولاړو. مونږ هلته په یو کور کي مېشت وو او ابتدايي لوسته مو په دغه ښار کي وکړه. زه هغه وخت ماشوم ومه نو نه پوهیږم چي پلار مې څنګه ژوند تامین کاوه.

سوال: علامه حبیبي هلته څه ډول مبارزه او په کوم شکل کوله؟

جواب: تر هغه چي زما پیادیری وروسته له دي، چي د هغه وخت حکومت زما د پلار څخه د هغه افغانی تابعیت واخستی او د ده په مقابل کي یي په مطبوعاتو کي پروپاګنډ جوړ کړی، ده د افغانستان د خلکو د آزادی لپاره حرکت پیل کړ او "آزاد افغانستان" د دغه حرکت سیاسی ارګان ؤ. دا اخبار ده تقریباً څلور کاله وچلاوه تر هغه، چي د ده اړیکی د پاکستان د حکومت سره ورانی سولي او مونږ یي د پېښور څخه د ساهیوال ښار ته ولیږلو او د هغه وروسته د کراچي ښار ته ولاړو. د پاکستانی حکومت مقصد دا ؤ، چي علامه د پښتونخواء د علاقي نه لیری کړي. د پاکستاني حکومت سره د اړیکو ورانیدو علت د پښتونستان مسئله وه، چي ده د پښتونستان د آزادی ناره پورته کړله.

سوال: علامه صاحب په کوم کال افغان سفارت مقیم د کراچي ته پناه یوړله؟ څومره موده تاسو هلته موجود واست؟ ژوند مو څنګه تېریدلو؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جواب: علامه د ۱۹۵۹ز کال په آخرو میاشتو کي افغاني سفارت ته پناه یوړله او موږ (اولادونه) هلته ۹ میاشتی وو. د سفارت څخه مو د وتلو اجازه نه درلودله. سر بیره پر دې پلار او مور مي درې نورې میاشتی هلته پاته وو، تر څو چي د افغانستان او پاکستان تر منځه سیاسی اړیکي وشلیدلې او هغه ؤ، چي پلار او مور می کابل ته را ستون سول.

سوال: علامه صاحب هلته پاکستان کې مجموعاً څو کاله پاته سو او بیا په کوم کال او په کوم دولتي تعامل څنګه او په کومه لار بېرته افغانستان ته راغلی؟

جواب: علامه هلته (نهه) کاله پاته سو او په ۱۳۳۹ش (۱۹٦۱ز) کي بیرته وطن ته راغلي. وروسته له دې چي موږ افغانی سفارت ته پناه یووړه، پاکستانی مقاماتو دغه حرکت د دوی د عسکري دکتاتوری او جاسوسی مقاماتو خلاف یو وړاندیز وګڼي. د هغه وخت پاکستانی حکومت له دغه نه بیریدي، چي علامه د دوی د مرتد حکومت، چي دوی د افغانستان پر خلاف دسایس درلوده خبر دئ، او که دئ د پاکستان نه لاړ شي، نو د دوی رازونه خصوصاً د پښتونستان پر خلاف به افشا سي. له دغه کبله وو، چي دوی نه غوښتل چي دئ له پاکستانه ووزي او دی یې هلته یرغمل نیولی ؤ. وروسته له دې چي موږ افغانی سفارت ته ولاړو د افغانستان حکومت، چي هغه وخت اروابناد سردار محمد داود صدراعظم ؤ، علامه د سفارت د غړی په حیث وپیژانده او د پاکستانی مقاماتو نه یې د ده منظوری د ثقافتی اتشی په حیث وغوښتله خو پاکستانی مقاماتو دا اقدام وه نه مانه او موږ په افغانی سفارت کي نژدې یو کال پاته سولو. د سفارت شا او خوا د پاکستان مخفی پولیسو ۲٤ ساعته پیره ورکوله او موږ هلته بند پاته وو.څرنګه چي پاکستاني حکومت زما پلار د یرغمل په حیث نیولي ؤ او اجازه یې نه ورکوله، چي بل هیواد ته ولاړ سي، نو علامه د افغانی مقاماتو سره اړیکی ونیولې، چي دئ غواړی بیرته وطن ته ستون شي. اعلحضرت محمد ظاهر شاه د ده دغه غوښتنه ومنله او د علامه افغانی تابعیت یې بیرته ورکي نو هغه ؤ، چي موږ په پټه افغانی سفارت ته ولاړو او هلته پناهنده سولو. موږ په آریانا هوایي الوتنی کي وطن ته بیرته را ستون سولو.

سوال: دا وخت حبیبي صاحب به څو کلن ؤ او آیا دولت کې یې دنده ونیوله او کنه؟

جواب: په دغه وخت کي علامه د ٥۱ کالو ؤ. وطن ته د ستونیدو وروسته دی د تاریخ ټولنی د غړي په حیث وټاکله سو او یو یا دوه کاله وروسته د کابل پوهنتون د استاد په حیث هم مقرر شواو ده ته د تاریخی او ادبي څیړنو له کبله د پوهاند رتبه د کابل پوهنتون له خوا ورکړله سوله. وروسته له هغه نه دئ د تاریخ د ټولنی رئیس مقرر شو.

سوال: کابل کې علامه صاحب چېرته اوسېدلو؟ کرایې شخصي کور؟

جواب: اول کال علامه په شش درک کي په کرایي کور کي اوسیدی. بیا زما د مور په اسرار علامه په جمال مینه کي یو کور راونیوی او تر مرګه پوری په هغه کور کي اوسیدي.

سوال: علامه حبیبي لکه یو لوی مشروطیت پال ملي مبارز د افغان نورو ملت پالو مبارزینو سره راشه درشه لرله، مثلاً، مرحوم میر غلام محمد غبار تاسو کورته درتللو؟ نور کوم افغان سیاسي او فرهنګي شخصیتونه ستاسو کورته درتلل، د هغوی نومونه؟

جواب: علامه د هغه وخت مبارزین لکه غلام محمد غبار، مجروح، الفت، نزیهی او نورو سره ټینګي اړیکي درلودلې او دا اړکی د دوی د ژوند تر پایه جارې وې. ډیر سیاسی او فرهنګي کسان زموږ کور ته راتله لکه پوهاند رشاد، پوهاند شاکر، ډاکټر محمود حبیبی، ښاغلي عبدالاحد کرزی، ښاغلی انګار، اروابناد محروح، اروابناد نذیهی او نور زما د پلار لیدو ته راتله.

سوال: آیا تاسو د افغان سندرغاړي صادق فطرت ناشناس سره شناخت یا خپلوي لری؟

جواب: اروابناد محمد رفیق حبیبی (د صادق فطرت پلار) او علامه حبیبي د اکا زامن دي. د صادق فطرت سره زموږ د فامیل شناخت ډیر لږ ؤ. البته د ناشناس د پلار او مور سره د علامه او زما د مور اړیکي ښه ټینګي وې او دوی به همیشه سره کتله او یو د بل کور ته به ورتلله او یو د بل احوال به یې سره اخیستی. د فطرت پلار او مور ډیر محترم او معزز خلک ول او زما سره یې د زوی په توګه چلښت کاوه.

سوال: څو کاله پخواء شاغلي ناشناس د یوه افغان کس صبور الله سیاسنګ سره پخپله مرکه کې ورته ویلي ول، چې « د پټې خزانې اثر چې پوهاد عبدالحی حبیبي تالیف کړای ده، دا یو جعلي اثر ده او حقیقت نلري»، او بیا وروسته همدغه شاغلي ناشناس په بله مرکه کې وویل، چې: «زه د افغان تاریخ څخه مکمل معلومات نلرم او خپله خبره د پټې خزانې باب یې پخپله رد کړله»

ستاسو په نظر د پوهاند حبیبي د زوی په حیث، د هنرمند ناشناس د دغو ضد او نقیضو توضیحاتو اصلي انګېزه به څه وي؟

جواب: د ناشناس د ضد او نقیص ویناوو نه داسی ښکاري، چي د ده رواني حالت چندانی سم ندي.

یو ورځ یوه خبره کوي او بله ورځ بله. د ده ادعا د پټې خزانې په اړه بې اساسه او بې سنده ده. یوار وایي، چي پټه خزانه محمد هوتک د پاچا شاه حسین لپاره کښلې وه، څو کاله وروسته یې دا ادعا کوله چي پټه خزانه د علامه حبیبی،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهاند عبدالشکور رشاد او ښاغلی عبدالروف بینوا جعل کاری ده. بیا د بی بی سي سره په یوه مرکه کي یې اعتراف وکي، چي "ما پته خزانه سر سرکی کتلي ده". سوال دا دی چي د ناشناس کمه ادعا سمه ده؟ دا راز بې اساسه خبری نه علم منی او نه سالم عقل. د ده د وېناوو څخه د روانی ناروغی او ځان بوللو علایم ښکاره کیږي.

سوال: علامه حبیبي، دا افغان عزیز القدر شخصیت په کوم کال وفات سو او څو کلن به ؤ، مقبره یې د کابل ښار کومه سیمه کي ده.

جواب: علامه حبیبی په ۱۳۶۲ش (۱۹۸٤ز) کال د زړه د ناروغی له امله وفات سو. دئ د ۷٤ کلن ؤ او مقبره یې د کابل د شهدای صالحین په هدیره کي ده.

سوال: د پوهاند صاحب څخه کومه منقوله او غیر منقوله شتمني پاته سوله؟

جواب: یو کور په جمال مینه کي پاته ؤ او هغه هم د ۱۹۹۰کلونو په جنګو کي وران سو او خښتی، تیګي، لرګیان، هنداری، دروازې او کلکلونه یې خلکو غلا کړل. اوس یوازی دوه بسوې مځکه پاته ده.

سوال: آیا پوهاند صاحب شخصي کتابتون درلود او د جناب د وفات څخه بیا څه سو؟

جواب: په ۱۹۹۳ز کال کي چي د کابل اوضاع کړکیچنه سوله زما مور کتابونه او د علامه څه مهم یاداښتونه یې په څو بیرلو کي پټ او ښخ کړل. څو کاله وروسته زما په خواهش ډاکتر محمود حبیبی دا شیان وښندله. د هغه وروسته نه یم خبر، چي هغه کتابونه او یاداښتونه د محمود حبیبی له مرګه وروسته څه سوله.

سوال: د علامه حبیبي د قلمي اسنادو شمېر به څو ته رسېږي او که دلته یې نومونه واخلی...؟

جواب: علامه تقریباً (۱۱۵) کتابونه لیکلی او د مقالو شمېر یې تر (۱۱۰۰) لا ډیر دي. د ده کتابونه او یو لړ مقالي د علامه حبیبی په ویب پاڼه کي سته، چي د ویب پاڼي آدرس یې دا دئ:

alamahabibi.net

سوال: جناب ډاکتر خوشحال، تاسو د علامه حبیبي صاحب د کشر زوی په حیث مو په دې وروستیو میاشتو کي د افغان-جرمن د مشهور ویب سایت له طریقه د خپل عالیقدر پلار یوه رساله «نادر خان و خاندان او» په څو برخو کي نشر ته ورکړله، چي خورا جالب مهم او تاریخي مطالب د طلایي خاندان د ماهیت په هکله په کي درج سوي دي، دا رساله پوهاند صاحب په کوم کال او چیرته لیکلي وه؟

جواب: دا رساله علامه په پیښور کي لیکلي وه او د جمهوریت اسلام د سپتمبر ۱۹۵۱ ز شماره کی چاپ سوې ده. د دي رسالي پي ډی ایف کاپي د علامه په ویب پاڼه کي. د کتابونو په برخه کي سته.

ښاغلی دوکتور، تاسو د افغان ګران او مبارز مشهور شخصیت، لیکوال، محقق، استاذ او شاعر علامه عبدالحی حبیبي (رح) د زوی په حیث دا، چي ماته مو وخت راکړ او دا مرکه مو راسره وکړله، تاسو نه ممنون یم، تاسو او د درنې تاریخي کورنۍ ټولو غړو ته بشپړه روغتیا او بریال ژوند غواړم.





۱۹۶۰ علامه حبیبی خپل د کشر زوي خوشحال سره په کراچي کي    علامه حبیبی (راسته) پوهاند رشاد، ښاغلی بینوا او ښاغلی جهانی د افغانستان اکادمی غړي. ۱۹۸۰ کال شا او خوا.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ



د علامه حبیبی قبر په شهدای صالحین کې. (راسته) حبیب الله رفیع، (چپه) میرویس حبیبي د علامه زوی پای

[مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین](#)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ